AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

شیر محمد اميني ستانکزی ۲۰۲۰/۰۲/۰۵

# راځئ چې د ژوند تېرولو؛ لومړیتوبونه وپېژنو!

په پیل کې له خپلې کورنی سره ښه او نیک چلند د ټولنې په وړاندې مسؤلیتونو ته مو متوجې کوي، چې وروسته د ټولنې په نظم کې رغنده رول لوبولای شي، ځکه زموږ دژوند ټولې چارې سمبالښت له کوره پیلیږي . کله چې د کور په دننه کې نظم او سمبالښت شتون ولري، نو د آرام ذهن او سکون له مخې کولای شو، چې دټولنې او د ښار ټولې شته ستونزو لپاره منظمه تګلاره رامنځته او په عملي کولو کې که مو برلاسی درلود، لاس په کار کیږو او که د ترسره کولو وړتیا مو نه درلوده، خو د عامه پوهاوي او خلکو ته د انګیزې پیداکولو توان ځان سره ولرو، څو نور وګړي وهڅول شي، چې یو منظم ژوند پرمخ بیولو لپاره د ستونزو او خنډ پرته یوه ټولنه او ښار ولري.

لکه څنګه چې په ښارونو کې لیدل کیږي، ځینې برخو کې چټلي او کثافات شتون او له امله یې فضاء بد بویه کړې او ناروغی هم د دغوسبب کیږي. خو په دې اړه نه یوازې وګړي ګرم وشمیرو؛ بلکې حکومتي اړونده اداره دې د خپلو لومړیتوبونو په پیژندنه کې په ښار کې میشته خلکو ته ستونزو د لرې کولو لپاره مهمې آسانتیاوې په نظر کې ونیسي او ښارکې په کار او بار بوختو کسانو لپاره هوساینې رامنځته کړي، چې په دې توګه دخلکو اړتیاوې پوره او هم به ښار پاک او ښکلی وي.

په ښار کې هېیوال هم د خپلو هېیو له مخې شته کثافاتو پاکې کړي، ځکه دا به یې د پاکی په فرهنګ مثبتې اغیزې وښیندي او د اروابوهنې له مخې د هېیوالو د توکو په پیر او پلور کې قیمتې تمامیدای شي او د پاکوالي ځرګندويې ښيي .
د پاکوالي اړتیا په ټولنه او ښار کې داده، چې د سیمې فضاء د هرډول ناروغیو له ګواښ څخه په امن کې کوي، د ښه او زرغون چاپیریال رامنځته کول په خلکو کې یو ډول انساني ارزښتونو ته درناوی دی، چې دا به یې د اسلامي اصولو په رڼا کې یو ډول نورو خلکو ته ګټې ترسره کړي وي.

زموږ د اوسیدو ټولنه یوه سنتې او اسلامي ټولنه ده، چې باید د اسلام په سپیڅلي ارشاداتو باندې کلک ودریږو او خلکو ته د شر رسولو پر ځای خیرونه و رسو، نو باید د خپل چاپیریال پاکوالي ته ډیره پاملرنه کې وکړو، څو دنورو ټولنو وګړي زموږ له پاکوالي خوند واخیستلی شي او دښار فضا به مو له بدبوییو پاکه کړې وي.

دا مهال په هېوادکې د ژمي سوړ موسم ده، چې ټول ولس ورسره په ستونزو کې راګیر وي او ډیری هغه وګړي، په یاد موسم کې ځوریږي، چې بیوزله او د اقتصاد له پلوه کمزوري دي، د دې لپاره له حکومتي چاروکو نیولې بیا تر شتمنو کسانو پورې چې په دې موسم کې د بیوزلو لاسنیوی او ورسره خوراکي او غیرې خوراکي توکو مرسته وکړي.

په کلیوالي سیمو کې ځوانان دې لاس په کارشي، چې دتګ او راتګ لارې او کوڅې له واورو پاکې کړي او د افغاني فرهنګ له مخې به یې ګډکار(اشر) ترسره کړي وي، څونور وګړي له ستونزو نه لرې واوسي.

داسې نور هم د ژوندانه د تېرولو لپاره لومړیتوبونه شته دي، چې په ترسره کولو کې ټول لاس پکار شي او د افغاني او اسلامي وجیبو له مخې به خلکو ته لازمې آسانتیاوې او خیرونه رسولو په برخه کې یو خدمت ترسره کړي وي .

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ